

# پټ نری رنځ (TB).

## فعاله اندیښنه

### د ناروغانو لپاره یو لارښود

د نري رنځ برنامه
د Virginia د عامې روغتيا رياست

د دې سرچینې موخه د ناروغ لپاره دا ده چې په پټ نري رنځ د اخته کېدو (LTBI)، د اړونده ناروغۍ د شالید په ګډون، دا څنګه تشخیص کیږي او څنګه یې درملنه کیږي په اړه معلومات چمتو کړي. پداسې حال کې چې دا سرچینه د ټولو ناروغانو لپاره ګټور وي، موږ هیله لرو چې دا به په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره ګټور وي چې په LTBI سره تشخیص شوي، هغه کسان چې له نري رنځ (TB) د اخته کیدو په ډیر خطر واقع دي، هغه کسان چې له نري رنځ (TB) سره مخ شوي، هغه کسان چې د لوړ خطر لرونکي TB ساحو کې کار کوي، په بیله بیا د دوی د کورنۍ غړي، ملګري، او نور نږدې اړیکې لرونکي کسان وي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ زموږ له دې ویب پاڼې لیدنه وکړئ https://www.vdh.virginia.gov/tuberculosis/.

## د فعال نري رنځ ککړتیا (LTBI) څه شی دی؟

د فعاله نري رنځ ککړتیا (LTBI) یوه داسې روغتیایي ستونزه ده چې خلک د نری رنځ په باکتریا اخته کیږي خو د فعاله نري رنځ (TB) د ناروغانو په څیر نه ناروغه کیږي. LTBI ځینې وختونه د "ویده نري رنځ (TB)" په نامه هم یادیږي، په دی چې د نري رنځ (TB) باکتریا په بدن کې وي خو غیرفعاله وي او وده نه کوي. دا چې د بدن دفاعي سیستم کولی شي د نري رنځ (TB) د باکتریا پر ضد مبارزه وکړي، هغه شخص چې LTBI لري د نري رنځ اړوند کومې نښې نښانې نه لري، د ناروغی احساس نه کوي، او همدارنګه نورو کسانو ته د نري رنځ (TB) باکتریا هم نه خپروي.

نری رنځ (TB) یوه وقایه کېدونکې او درملنه کېدونکې ناروغۍ ده چې د *Mycobacterium tuberculosis (M. tuberculosis)* په نوم باکتریا څخه رامنځته کیږي. خو هرڅوک چې په *M. tuberculosis* اخته وي د نري رنځ (TB) ناورغي پکې نه رامنځته کیږي. دا باکتریا زیاتره وختونه په سږو یرغل کوي، خو کیدای شي د بدن په هره حصه یرغل وکړي. نښې نښانې یې نظر دې ته چې د بدن په کومه حصه یرغل کوي توپیر لري. دا نښې نښانې یې کېدای شي تر 3 اوونیو زیات ټوخی، کمزورتیا، تبه، په شپه کې خوله کیدل، د سینی درد او د ټوخي په وخت کې وینه راتلل وي. که درملنه یی ونشي نو فعال نری رنځ (TB) د مړینې لامل کیدای شي.

که څه هم له LTBI سره باکتریا غیر فعاله وي، دوی په بدن کې ژوندي پاتی کیږي او که درملنه یې ونه شي کیدای شي چې فعاله شي. کله چې دا پیښه رامنځته شي، کیدای شي تاسو د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي ونیسي کوم چې تاسو به ډیر ناروغه کړي. نو دا ډیره اړینه ده چې تاسو LTBI درملنه بشپړه کړۍ ترسو چی ځان د فعال نري رنځ (TB) له اخته کیدو څخه وساتی.



## څنګه په LTBI اخته کیږئ؟



کله چې په فعاله نري رنځ (TB) ناروغی اخته کس خبرې، ټوخی، خندا، سندره یا هم پرنجی کوي، د نري رنځ (TB) باکتریا ترې د هوا له لارې خپریږي. د نري رنځ (TB) باکتریا په هوا کې خپرېدلی شي او که تاسو د دې پیښې په وخت کې دې کس ته نږدې یاست، تاسو تنفس سره ښایي دا باکتریا واخلی او په ناروغی اخته شئ.

د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي په عام ډول په هغو خلکو کې خپریږي چې هره ورځ له یو بل سره ویني او له یو بل سره نږدې اړیکې لري - لکه د کورنی غړي، ملګري، همکاران، یا د ښوونځي ټولګیوال.

که تاسو له متحده ایالاتو څخه بهر زیږیدلی یاست، تاسو ښایي د ماشوم په توګه د Bacille Calmette – Guérin (BCG) واکسین ترلاسه کړی وي. دا واکسین په نویو زیږیدلو ماشومانو او ځوانو ماشومانو کې د نري رنځ (TB) د جدي ډولونو د پراختیا مخه نیسي. په هرصورت، دا له نري رنځ (TB) څخه د ټول عمر لپاره ساتنه نه کوي. دوهمه برخه وګورئ ترڅو پوه شئ چې تاسو څنګه د نري رنځ (TB) لپاره معاینه کولی شئ حتی که تاسو د ماشوم په توګه د BCG واکسین هم ترلاسه کړی وي.

## څوک د فعاله نري رنځ (TB) په ناروغۍ د اخته کېدو په خطر کې دي؟

که څه هم د LTBI سره یوازې 5-10٪ خلک به د نري رنځ (TB) په فعاله ناروغۍ اخته شي، که چیرې د دوی LTBI درملنه ونه شي. په متحده ایالاتو کې شاوخوا 80٪ د فعاله نري رنځ (TB) قضیې د LTBI د درملنې نه کیدو له امله دي. برسیره پردې، ځینې خلک چې LTBI لري د نورو په پرتله د فعاله TB ناروغۍ د اخته کیدو ډیر احتمال لري.

هغه خلک چې د فعاله TB ناروغۍ د اخته کیدو خطر یې لوړ دی عموما په دوه کټګوریو کې راځي:

1. هغه خلک چې په دې وروستیو کې د نري رنځ (TB) باکتریا سره اخته شوي (د څرګندیدو څخه دوه کاله وروسته)؛
2. هغه خلک چې لاندې روغتیایي ستونزې لري، چې د بدن دفاعي سیستم کمزوری کوي:
   - په HIV اخته کیدل
   - د مخدره توکو کارول، په ځانګړې توګه د پیچکارۍ لرونکو مخدره توکو کارول
   - د روماتیزم یا کرون ناروغۍ لپاره ځانګړې درملنه
   - د غړو پیوندول
   - د پښتورګو جدي ناروغي
   - د سر او غاړې سرطان
   - د شکر ناروغۍ
   - طبي درملنې، لکه د کورټیکوسټرایډونو کارول
   - د سږو ناروغي
   - د بدن کم وزن
3. برسیره پردې، ماشومان، په ځانګړې توګه هغه ماشومان چې عمر یې له پنځو کلونو څخه کم وي، د فعاله نري رنځ (TB) ناروغۍ د پرمختګ لوړ خطر لري چې یوځل یې اخته شي.

**تاسو له لاندې مواردو څخه نری رنځ (TB) نه اخلئ:**

- خواړه او څښاک شریکول
- لاس ورکول
- په غېږه کې نیول
- د بیت الخلا له سیټونو نه کار اخیستل

## ایا زه بایدد نري رنځ (TB) معاینه وکړم؟

تاسو باید معاینه وکړئ که چېرې:

- تاسو د هغه چا سره وخت تیر کړی چې پېژندل شوی چې د نري رنځ (TB) فعاله ناروغي لري یا فکر کیږی چې ناروغی لري؛
- تاسو د فعاله نري رنځ (TB) د ناروغی نښی نښانئ لرئ؛
- تاسو په داسی هیواد کې زیږدلي، ژوند کوه، یا هم هغو هیوادونو ته سفر کړې چې هلته د فعاله نري رنځ (TB) ناورغي عامه ده.
- تاسو HIV یا هم کومه بله روغتیايي ستونزه لرئ چې ستاسو د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری کړی دی.
- تاسو د ستني له لارې مخدره توکي کاروئ؛
- تاسو په یو لو ځای کې کار یا ژوند کوی چې هلته د نري رنځ (TB) ناروغي عامه ده، لکه د بی کوره خلکو لپاره سرپناه، اصلاحي مرکزونه او یا مرستونونه.



### زه څه ډول د LTBI لپاره تر معایناتو لاندې نیول کیږم؟

د LTBI معاینه کولو لپاره، دوه اختیارونه شتون لري - د نري رنځ (TB) د ویني معاینه او د نري رنځ (TB) د پوستکي معاینه. تاسو کولی شئ له خپل ډاکټر یا د ځایي روغتیايي څانګي څخه د نري رنځ (TB) اړوند د پوستکي یا ویني معاینه وکړئ. ستاسو د روغتیايي پاملرني چمتو کوونکی به تاسو ته ووايي چې کومه معاینه ستاسو لپاره غوره ده او که تاسو د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي یا LTBI سره تشخیص شوي یاست نو باید د تعقیبي پاملرني لپاره یو پلان ترتیب کړئ.

#### د نري رنځ (TB) د ویني معاینات

د نري رنځ (TB) د ویني معاینات، چې د انترفیرون-ګاما ریلیز اسیس (IGRAs) په نوم هم پیژندل کیږي، ستاسو د روغتیايي پاملرني له چمتو کوونکي سره لیدني ته اړتیا لري. ستاسو د روغتیايي پاملرني چمتو کوونکی به درڅخه د ویني یوه ساده نمونه واخلي او هغه به د دې لپاره لابراتوار ته ولیږي ترڅو معلومه کړي چې ایا تاسو د نري رنځ (TB) په باکتریا ککړ شوي یاست او که نه. IGRA د هغو کسانو لپاره چې د BCG واکسین یې اخیستی دی د نري رنځ (TB) غوره ازموینه ده، او د هغو کسانو لپاره چې د نري رنځ (TB) پوستکي معاینې اړین تعقیبي لیدنې لپاره بیرته راستنیدو کې ستونزه لري.

- د IGRA مثبته معاینه په دې معنا ده چې تاسو د نري رنځ (TB) په باکتریا باندې اخته یاست. په هرصورت، تاسو به تعقیبي معاینې ته اړتیا ولرئ ترڅو معلومه کړئ چې تاسو LTBI یا د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي لرئ.
- د منفي IGRA معنا دا ده چې ستاسو ویني ازموینې ته عکس العمل نه دی ښودلی او دا چې LTBI او په فعاله نري رنځ (TB) ناروغی د اخته کیدو احتمال نشته.

## د نري رنځ (TB) د پوستکي معاینه

د نري رنځ (TB) د وینې معاینې په څیر، د TB پوستکي معاینه یا د تیوبرکولین پوستکي ازموینه (TST) ستاسو د روغتیايي پاملرنې د چمتو کوونکي لخوا ترسره کیږي ترڅو معلومه کړي چې تاسو د نري رنځ (TB) په باکتریا باندې اخته شوي یاست که نه. د دې ازموینې لپاره، ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی به ستاسو د لاس په ښکته برخه کې لږ مقدار ټیوبرکولین، د آزمایښي پروټین داخل کړي. بیا، د 48-72 ساعتونو وروسته به، تاسو بیرته خپل د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکي ته ورشئ ترڅو چیرې چې ټیوبرکولین تزریق شوی غبرګون اندازه کړئ. ستاسو د روغتیايي مخینې او د هر ډول عکس العمل اندازه کولو پر اساس یې، ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی معلومه کړي چې ایا معاینه مثبته ده که منفي.

- د مثبت TST معنا دا ده چې تاسو د نري رنځ (TB) په باکتریا باندې اخته یاست. په هرصورت، تاسو به تعقیبي معاینې ته اړتیا ولرئ ترڅو معلومه کړئ چې تاسو LTBI یا د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي لرئ.
- د منفي TST معنا دا ده چې ستاسو بدن ازموینې ته عکس العمل نه دی ښودلی او دا چې LTBI او فعاله نري رنځ (TB) ناروغي امکان نه لري.

که تاسو د فعاله نري رنځ (TB) ناروغي لرئ نو تاسو به د HIV معاینې وړاندیز وشي ترڅو ستاسو د HIV حالت معلوم کړي. دا ستاسو د درملنې او پاملرنې لپاره اړینه ده.

## تعقیبي معاینات

که تاسو په دې وروستیو کې له نري رنځ (TB) سره مخ شوي یاست، تاسو ممکن د مخ کیدو څخه 8-10 اونۍ وروسته د TB دوهم معاینه ته اړتیا ولرئ، ځکه چې دا ممکن ستاسو د بدن لپاره ډیر ژر وي چې مثبت غبرګون رامینځته کړي. که دویمه معاینه منفي وي، نو تاسو احتمال لرئ چې LTBI یا فعال TB ناروغي ونه لرئ.

که ستاسو IGRA یا TST مثبت وي، ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی به اضافي معاینه ته اړتیا ولري ترڅو معلومه کړي چې تاسو LTBI یا فعاله نري رنځ (TB) ناروغي لرئ. په دې کې زیاتره ستاسو په سږو کې د فعاله نري رنځ (TB) د ناروغۍ د نښو نښانو د موندلو لپاره د سینې ایکس رے شامل دي، مګر که تاسو ټوخی لرئ د بلغم نمونه هم پکې شامل وي. څرنګه چې TB تل ستاسو په سږو کې نه وي، ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکي ممکن نورې نمونې هم واخلي.



مهرباني وکړئ په یاد ولرئ، په ویرجینیا کې د LTBI او فعاله نري رنځ (TB) ناروغۍ د راپور ورکولو وړ شرایط دي، نو ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی به دې ته اړتیا ولري چې مثبتې پایلې ځایي روغتیايي څانګې ته راپور کړي. په هرصورت، د دې معاینې پایلې به پټې پاتې شي، او نه شي کولی چې تاسو له دندې څخه ګوښه کړئ، یا ستاسو د کډوالۍ په حیثیت باندې کوم اغېزه وکړي.

موږ پوهیږو چې د LTBI تشخیص کیدای شي خورا لوی خبر وي او تاسو ته ډیری پوښتنې پیدا کړي. موږ غواړو تاسو ته ډاډ درکړو چې د **LTBI درملنه کیدی شي** او د LTBI درملنه کولی شي ستاسو د فعال نري رنځ (TB) ناروغۍ پراختیا مخه ونیسي. په داسې حال کې چې د نري رنځ (TB) فعاله ناروغۍ درملنه هم کیدی شي، که چیرې وده ومومي، تاسو به څنې ډیر ناروغه احساس کړئ او نورو ته TB خپره کړئ. نو، د LTBI درملنه کولی شي تاسو او ستاسو کورنۍ، ملګري، او همکاران روغ او خوندي وساتي.

## د LTBI درملنه څه ډول ترسره کیږي؟

ستاسو د LTBI د درملنې لپاره څو لارې شتون لري. ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی به ستاسو د اوسنې روغتیايي حالت او نورو درملو ته په کتلو سره چې تاسو یې اخلئ، له تاسو سره کار وکړي ترڅو د درملنې تر ټولو مناسبې لارې معلومې شي.

اوسمهال، د ناروغیو د کنټرول او وقایې مرکزونه (CDC) او د نري رنځ د کنټرولوونکو ملي اتحادیه (NTCA) د لنډ مهاله درملنې وړاندیز کوي. دغه لارې تاسو ته اجازه درکوي چې خپله درملنه په دریو یا څلورو میاشتو کې ترسره کړئ. که دا لارې مناسبه نه وي، نو ستاسو د روغتیايي خدماتو چمتو کوونکی به تاسو ته د شپږو یا نهو میاشتو درملنه درکړي. د درملنې لپاره یې لاندې ممکنه لارې شتون لري.



- دري میاشتې لپاره په اونۍ کې یو ځل isoniazid plus rifapentine (3HP)
- څلور میاشتې لپاره ورځنۍ rifampin (4R)
- دري میاشتې لپاره هره ورځ isoniazid plus rifampin (3HR)
- شپږ یا نهه میاشتې لپاره isoniazid (په ترتیب سره 6H یا 9H)

لکه څنګه چې په تیرو برخو کې یادونه وشوه، ځینې خلک یا د ډلې شته کله چې د ناروغۍ نه ډک چاپیریال کې واقع شي نو د فعاله نري رنځ (TB) ناروغۍ د پراختیا لپاره خورا لوړ ګواښ لري. دا ډلې نوي زیږیدلي ماشومان، ماشومان او هغه خلک چې HIV لري. د لوړ ګواښ د موجودیت په خاطر، یادو خلکو ته که چیرې د TB ناروغۍ نه ډک چاپیریال کې واقع شوي وي درملن په پام کې نیول کیږي، که څه هم د دوی د نري رنځ (TB) ناروغۍ معاینه منفي وي که چیرې تاسو او یا ستاسو ماشوم له یادی ډلې څخه دی مهرباني وکړئ خپل د صحي خدمتونو چمتو سره دا موضوع شریکه کړئ.

مونږ پوهیږو چې د LTBI درملنه له نورو باکتریایي ناروغیو څخه لکه سینه او بغل چې ممکن تاسو پرې اخته شوي یاست، زیات وخت نیسي. دا د دی لپاره دی چې د نري رنځ (TB) باکتریا نظر نورو باکتریا ګانو ته ډیر ورو وده کوي، نو همدې لپاره یې درملنه هم ډیر وخت غواړي. البته، د LTBI درملنه نسبت فعاله TB ناروغۍ ته اسانه ده او ژر تر سره کیږي. په یاد ولرئ د دی لپاره چې د LTBI مخنیوي په فعاله TB ناروغۍ بدل نه شي یواځینۍ لاره یې داده چې درملنه هرومرو په همغه ډول تعقیب کړی چې ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتوکوونکي ته یې ووایاست.

## زه د LTBI د درملنې لپاره باید په څه پوه شم؟

ستاسو د درملنې په اساس، تاسو باید دوا یا هره ورځ اخلئ یا هم په اونۍ کې یو ځل. دا خورا مهمه ده چې تاسو خپل درمل په سمه توګه وخورئ لکه څنګه چې ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکي یې تاسو ته وایي، په سم وخت کې ټول د دوا خوړلو او د ټولې دوا خوړلو په ګډون. که تاسو یې په سمه توګه وخورئ، دغه دوا د فعاله نري رنځ (TB) ناروغۍ د پرمختګ مخنیوي کې ډیر ښه کار کوي.

برسیره پردې، درملنې لارې ته په کتو سره ، تاسو ممکن د خپل درمل د کارولو لپاره د خپل د روغتیايي پاملرنې له چمتو کوونکي سره لیدنه وکړئ. دی ته تر نظر لاندې درملنه یا (DOT) وایي. DOT ګټور کیدی شي ځکه چې ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی کولی شي پوښتنو ته ځواب ووایي، عکس العملونه ته د حل لارې پیدا کړي، او ډاډ تر لاسه کړي چې تاسو ژر تر ژره خپل درملنه بشپړ کړئ.

**د LTBI درملنې په جریان کې د هورمونونو مخنیوي کوونکي او الکول کارول**

که تاسو اوسمهال د هورمونونو مخنیوي ګولۍ اخلئ (د زیږون د کنټرول ګولۍ، امپلانټ، Patch، Nuvaring، Depo Provera، یوازې پروګیسټرون ګولۍ)، مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د نري رنځ (TB) درمل کولی شي د دغو درملو په ښه کار کولو اغیزه وکړي. مهرباني وکړئ په دې اړه خپل د روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ او د امیندوارۍ مخنیوي لپاره د خنډ میتودونه، لکه کنډوم وکاروئ.

د الکول څښل، لکه بیر، شراب، یا liquor، د نري رنځ (TB) درملو اخیستو پرمهال خطرناک کېدلی شي. مهرباني وکړئ خپل د روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي سره د الکول هر ډول کارولو په اړه بحث وکړئ.

## ولې باید درمل وخورم **کله چې ځان ناروغ نه احساسوم؟**

که څه هم تاسو د ناروغۍ احساس نه کوئ او نه شئ کولی نورو ته نری رنځ (TB) خپور کړئ، تر هغه چې ستاسو په بدن کې د نري رنځ (TB) باکتریا شتون ولري، دوی د دې توان لري چې تاسو ناروغ کړي. د نري رنځ (TB) باکتریا څخه د خلاصون یواځینی لار د LTBI درملنې د بشپړې دورې پوره کول دي.

## که زه د خپل LTBI درملو یو وخت تطبیق نه کړم څه به وشي؟

که تاسو د خپل LTBI درملو دوز تطبیق هیر کړئ، نو خپل د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته په راتلونکي ملاقات کې ووایاست. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو اضافي دوز نه اخلئ، ځکه چې په یو وخت کې له وړاندیز شوي دوز څخه د اضافي دوز اخیستل سپارښتنه نه کیږي.

که تاسو د خپل LTBI درمل دوه اوونۍ یا ډیر له لاسه ورکړئ، ژر تر ژره د خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي سره لیدنه وکړئ ترڅو معلومه کړئ چې ستاسو د LTBI درملنې پلان سره څنګه پرمخ لاړ شي.

## ایا درملنه جانبي عوارض لري؟

په داسې حال کې چې ډیری خلک د دې وړتیا لري چې د LTBI درمل خورا ښه برداشت کړي، ځینې عام جانبي عوارض شتون لري. ډیری دا جانبي عوارض لږ تاثیر لري، مګر ځینې ممکن سمدستي طبي پاملرنې ته اړتیا ولري. نظر ستاسو درملنې رژیم ته چې ممکن تاسو ته په نظر کې ونیول شي تاسو لاندې حالات تجربه کړئ:

- د خولې د اوبو، ادرار، اوښکو او نورو بدني مایعاتو نارنجي-سور رنګ - دا نورمال دی او ممکن د وخت په تیریدو سره له منځه لاړ شي.
- ستړیا

که تاسو د درملنې په دوران کې جدي جانبي عوارضو سره مخ شوی، ژر تر ژره خپل د روغتیایي پاملرنې له چمتو کوونکي سره په اړیکه کې شئ. لاندې موارد یې په جدي جانبي عوارضو کې شامل دي:

- سر ګنګسي یا بې حالي
- د اشتها له لاسه ورکول
- د زکام په څیر نښې نښانې (د بیلګې په توګه، تبه، زکام، سر درد، سرخوږی، د عضلاتو درد)
- شدید اسهال یا د روښانه رنګ غایطه مواد
- د ساه لنډی
- د خپګان او بې علاقه ګۍ احساسات
- تبه
- ناڅرګنده وزن کمول
- نسواري پیشاب (د کافي یا کولا رنګ)
- ژیړ پوستکي یا سترګې
- د پوستکي حساسیت
- د لاسونو او پښو پرله پسې خارښت یا لړزی احساس کول
- دوامداره ستړیا یا ضعف - چې 3 یا ډیرو ورځو دوام ولري
- د معدې درد
- د بدن په اسانۍ سره زخمي یا وینې کېدل
- دبندونو درد
- د زړه بدوالی
- کانګې کول
- خارښت

### څه به وشي که زه يې درملنه پوره نه کړم؟

که تاسو د LTBI درملنې يوه دوره پوره نه کړئ، د نري رنځ (TB) باکتريا به ستاسو په بدن کې پاتې شي او کولای شي چې فعاله نري رنځ (TB) ته پرمختګ وکړي. يو ځل بيا، د فعاله نري رنځ (TB) باکتريا څخه د خلاصون يواځينی لار د LTBI درملنې بشپړ دوره پوره کول دي.

### وروسته له دی چې زه خپله درملنه پای ته ورسوم څه به وشي؟

وروسته له دې چې تاسو خپل LTBI درملنه سرته ورسوئ، تاسو ته به د درملنې د بشپړولو سند ستاسو د روغتيايي پاملرنې د چمتو کوونکي له خوا درکړل شي. په دی سند کې به د نري رنځ (TB) معايناتو پايلې، د سينې اکس رې پايلې، د درمل نوم، دوز، موده او ستاسو د صحي خدماتو وړاندې کوونکي معلومات شامل وي.

د دې سند په يو محفوظ ځای کې له ساتلو ځان ډاډمن کړئ، د دې لپاره چې دا سند به تاسی د راتلونکي نري رنځ (TB) د معلومات را ټولو په وخت کې ښکاره کړئ. لکه څنګه چې د نري رنځ (TB) راتلونکی معاينه به مثبته پاتې شي، تاسو اړتيا نه لرئ په راتلونکي کې د TB معاينه وکړئ. په هرصورت، تل ډاډ ترلاسه کړئ چې د فعاله نري رنځ (TB) ناروغی کومې نښو يا نښانو ته پاملرنه وکړئ چې مخکې يې يادونه وشوه. خپل د روغتيايي پاملرنې له چمتو کوونکي سره په تماس کې شئ که چیرې تاسو کې د فعاله نري رنځ (TB) نښې نښانې تېرې کړې وي.



د Brown پوهنتون روغتيايي خدمات (2019). *د فعاله نري رنځ د ککړتيا اوږند درملنه (LTBI):د Brown د روغتيايي خدماتو د ناروغانو د پوهنې لړئ* د Brown پوهنتون صحي خدمات https://www.brown.edu/campus-life/health/services/sites/brown.edu.campus-life.health.services/files/LTBI%20Treatment.pdf

California Department of Public Health. (2018). *له نري رنځ (TB) څخه آزاده کاليفورنيا: ستاسو له ناروغانو سره د LTBI په اړه خبرې کول (بالغ ناروغان*. د کليفورنيا د عامې روغتيا رياست. https://www.cdph.ca.gov/Programs/CID/DCDC/CDPH%20Document%20Library/Latent%20TB%20Starter%20Kit%20for%20Providers/Provider_script_for_LTBI_counseling-adults.pdf

د ناروغيو د کنترول او مخنيوي مرکزونه. (2012). *نری رنځ: حقايق ترلاسه کړئ!* [بروشر]. https://www.cdc.gov/tb/publications/pamphlets/Tuberculosis_Get_the-facts.pdf

د ناروغيو د کنترول او مخنيوي مرکزونه، د HIV/AIDS، ويروسي زېږي، STD، او نري رنځ (TB) د مخنيوي ملي مرکز، د نري رنځ د له منځه وړلو څانګه. (2020). *د فعال نري رنځ ککړتيا: د روغتيايي پاملرنې د چمتو کوونکي لپاره لارښود* . د ناروغيو د کنترول او وقايې مرکزونه. https://www.cdc.gov/tb/publications/faqs/pdfs/qa.pdf

د ناروغيو د کنترول او وقايې مرکزونه، د HIV/AIDS، ويروسي زېړي، STD, او نري رنځ (TB) د وقايې ملي مرکز. (2014). *د نري رنځ [TB] په اړه پوښتنې او ځوابونه*. د ناروغيو کنترول او مخنيوي مرکزونه. https://www.cdc.gov/tb/publications/faqs/pdfs/qa.pdf د ناروغيو د کنرول او مخنيوي مرکزونه، د HIV/AIDS، ويروسي زېړي، STD، او نري رنځ (TB) د مخنيوي ملي مرکز. (2014). *نرى رنځ (TB): د نري رنځ ناروغی په اړه هغه څه ته چې تاسو يې پوهيدو ته اړتيا لرئ*. د ناروغيو د کنترول او مخنيوي مرکزونه. https://www.cdc.gov/tb/publications/pamphlets/tb_infection.pdf

Curry د نري رنځ نړيوال مرکز. (August 2020). *د پټ نري رنځ (TB) ککړتيا "ويډه TB"* [د پاورپاينټ سلايډونه]. د Curry نري رنځ نړيوال مرکز. https://www.currytbcenter.ucsf.edu/products/ltbi-flipbook-patient-education-tool

Sterling, T.R., Njie, G., Zenner, D., Cohn, D.L., Reves, R., Ahmed, A., Menzies, D., Horsburgh Jr, C.R., Crane, C.M., Burgos, M., LoBue, P., Winston, C.A., & Belknap, R. (2020). په پټ نري رنځ د اخته کېدو د درملنې لپاره لارښوونې: د نري رنځ د کنترولوونکو د ملي اتحاديې او CDC اړوند د 2020 کال وړانديزونه. *د ناروغۍ او مړينې اوونيز راپور* (MMWR): وړانديزونه او راپورونه، 69(No. RR-1), 1-11.DOI: http://dx.doi.org/10.15585/mmwr.rr6901a1

# یادښتونه

# یادښتونه

# یادښتونه

**Latent TB. Active Concern.**
**Tuberculosis Program**

د Virginia د روغتیا ریاست د نري رنځ د برنامې موخه د نري رنځ (TB) مخنیوی، درملنه او له منځه وړل دي ترڅو روغتیا ساتنه وکړي او په Virginia کې د ټولو خلکو هوساینې ته وده ورکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ زموږ له دې ویب پاڼې لیدنه وکړئ https://www.vdh.virginia.gov/tuberculosis/ له موږ سره د 804-864-7906 یا tuberculosis@vdh.virginia.gov له لارې اړیکه ونیسئ

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

د ګرافیکي ارتباطاتو د دفتر لخوا ډیزاین شوی، د Virginia DGS: د پیرودلو او اکمالاتو څانګه